**د افغانستان اسلامي امارت**

**د لوړو زده کړو وزارت**

**بُست پوهنتون**

**حقوق او سیاسی علومو پوهنځۍ**

---

# د حقوق او سیاسي علومو  پوهنځی ستراتیژیک پلان

**۱۴۰۵ -۱۴۰۱**

**2026 -2022**

**ترتیب کوونکي:** د پوهنځی د ستراتیژیک پلان کمېټه

# د مطالبو فهرست


ګڼه: مخ:

1. د پوهنځی د رئیس پیغام.................... 5
2. د پیل خبري.................... 7
3. لیرلید (Vision).................... 8
4. ماموریت (Mission).................... 8
5. د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی ارزښتونه.................... 8
6. د لوړو زده کړو وزارت د ملي ستراتیژیک پلان لومړیتوبونه.................... 8
7. حکومتولي.................... 8
8. علمي او اکاډمیک پروګرامونه.................... 9
9. په علمي کادر کې وړ او مسلکي استادانو ته پراختیا ورکول.................... 9
10. د علمي کادري غړو ظرفیت لوړول.................... 10
11. لوړو زده کړو ته لاسرسی.................... 10
12. په اسلام کې د ښځینه محصلینو ته د لوړو زده کړو لاسرسی.................... 11
13. د رهبری پروګرامونه.................... 11
14. د فساد پر ضد مبارزه.................... 12
15. بیوروکراسي.................... 12
16. د عملیاتي پلان تائیدول.................... 13
17. د څارني او روزني پیاوړي کول.................... 13
18. تواميتونو پراختیا.................... 14
19. د مرستو جلبول.................... 14
20. د جند مسئایل.................... 14
21. ستراتیژیکي موخې.................... 14
22. ستراتیژیک پلان کې پنځه ګوني شاخصونه.................... 15

23. علمي څېړنه او پلان جوړونه.......................................................................15
24. د استادانو او محصلینو تحقیقاتي او څېړنیز فعالیتونه.................................................15
25. د محصلینو تحقیقاتي فعالیتونه..................................................................16
26. په ټولنه کې د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی ونډه.............................................16
27. د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی عایدات.......................................................16
28. ټکنالوژي...............................................................................................17
29. تدریسي چارې.........................................................................................17
30. سافټ کتابتون.........................................................................................17
31. نړیوال فعالیتونه......................................................................................18
32. اکشن پلان..............................................................................................19
33. د نصاب پراختیا........................................................................................21
34. د کریډیټ سیستم پیاوړتیا او پلي کول...........................................................21
35. د کیفیت تضمین او اعتبار ورکول...............................................................22
36. د برېښنایي زده کړو پروګرامونه...................................................................23
37. د زده کړیالانو لپاره د خدماتو او اسانتیاوو پیاوړتیا...........................................23
38. د محیطي عواملو تحلیل (SWOT ANALYSIS) ........................................................24
39. حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی د قوت ټکي....................................................24
40. د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی کمزوري ټکي................................................25
41. د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی فرصتونه ........................................................25
42. د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی تهدیدونه.......................................................25
43. د ستراتژیک پلان داخلي عوامل.......................................................................26
44. د ستراتژیک پلان باندني عوامل.......................................................................26
45. د سوټ ماتریکس جدول.............................................................................27
46. د پوهنځی د ستراتیژیک حالت ټاکنه..............................................................28
47. د پوهنځی موخې او اهداف..........................................................................29

48. د کلیدی کړنو د شاخصونو په نظر کې نیولو سره د پوهنځی ستراتیژک اهداف او موخې ټاکل. 29
49. زېربناوي................................................................................................29
50. خطرات................................................................................................30
51. د چاپېریال اغېزې ................................................................................................ . 31
قوېتکي................................................................................................31
52. کمزوري ټکي................................................................................................31
53. پایله................................................................................................32
54. تاییدی ................................................................................................32

## د پوهنځی د رئیس پیغام

اوسنۍ نړۍ چې د یو کلي بڼه یې خپل ځان ته غوره کړې او زموږ هیواد د دې کلي د یو کور په مثال دی، دا کور تخصصي او با کیفیته لوړو زده کړو ته ضرورت لري، ځکه پدې نړۍ کي د لوړو زده کړو بغیر ژوند داسي معنی لري، لکه څوک چي په سفر روان وي، خو منزل یې معلوم نه وي.

نو پدې خاطر چي د دې بې وسه او بې کسه مظلوم ولس لپاره مو څه کړي وي، د بُست پوهنتون چي د هیواد په سطحه د باکیفیته پوهنتونونو له جملې څخه دی، تر چتر لاندي د حقوقو او سیاسي علومو په برخه کي وطنوالو ته په ښه او عالي کیفیت، د مجبربو، ماسټر او دوکتور استادانو په مټ د عامه ادارې، ډیپلوماسی، قضاء او څارنوالۍ زده کړي ورکړو.

د حقوقو او سیاسي علومو د پوهنځی اداره پدې لټه کي ده، چي ټولو هغو اړتیاوو ته ځواب ویونکی واوسي کوم چي د هیواد د اوسېدونکو او په ټوله کي د ګران افغانستان د پرمختګ، توسعه او رشد سبب ګرځي.

د حقوقو او سیاسي علومو د پوهنځي اداره خپل ډېره توجه و ښه کیفیت او شفافیت ته کړې او کوي؛ همدارنګه یې د لوړ ظرفیت خاوندان ټولني ته وړاندي کړي او کوي، چي تر څو د هیواد د ناخوالو لپاره د درمل په حیث کار وکړي.

د بُست پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی د خپل مرام په نظر کي نیولو سره هڅه کوي چي محصلانو ته معیاري لوړي زده کړي د مجربو، با استعداده او کادري استادانو په مټ وړاندي کړي.

د بُست پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی ویاړ لري، چي د ماسټر او دوکتور استادانو په مټ محصلانو ته د واحد کریکولم په نظر کي نیولو سره علمي او ستندرد درسي مواد چمتو او د محصلانو ګټي اخیستني ته وړاندي کوي.

د پوهنځي اداره ژمنه ده، چي د لوړو زده کړو د قوانینو، لوایحو او مقرراتو په نظر کي نیولو سره خپلو محصلانو ته د زده کړي غوره چاپېریال رامنځته کړي، چي په همدې موخه د عملي کارونو زمینې برابرولو، په ملي او نړیواله کچه د علمي مؤسسو، مرکزونو او ادارو سره د دوه اړخیزو تړونونو په رامنځته کولو، روزنیزو ورکشاپونو او سمینارونو په وړاندي کولو سره او همدارنګه د علمي څېړنو د ترویج لپاره هڅي کوي.

د اړتیاوو او معیارونو په نظر کي نیولو سره باید هره اداره د خپلو فعالیتونو ښه کولو او اوږد مهاله موخو د تر لاسه کولو لپاره ستراتیژیک پلان ولري او د هغه په نظر کي نیولو سره خپل فعالیتونه په ښه ډول منظم مخته یوسي، نو پدې خاطر د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی هم دا وېتیله چي باید د ستراتیژیکو موخو د تر لاسه کولو په موخه پنځه کلن ستراتیژیک پلان ترتیب او جوړ کړي.

د حقوقو او سیاسي علومو د پوهنځي ستراتیژیک پلان د بهرني چاپېریال د ټولنیزو، سیاسي، اقتصادي، فرهنګي، تکنالوژیکي، تخنیکي، قانوني او حقوقي اړخونو تر مطالعې او ورسره د پوهنځي د فرصتونو، تهدیدونو، د قوت ټکي او د کمزورو ټکو په نظر کي نیولو سره ترتیب او تهیه سوی دی.

موږ باور او هوډ لرو، چي د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی به د لوړ اکاډمیک اعتبار، مسلکي تیم او ژمنتیا په درلودلو سره د هیواد په کچه د تېر په څېر د علمي کادرونو غوره روزنځای وي.

په پای کې د پوهنتون د رهبرۍ، د پوهنځي د ډیپارټمنټ آمرینو، استادانو، تدریسي مدیریت او په ځانګړي ډول د ستراتیژیک پلان د کمېټې څخه مننه کوم چې د لوړو زده کړو د وزارت د معیارونو مطابق او د پوهنځي لرلید ته د رسېدو په پار یې هلې ځلې او همکارۍ وکړې او د مشترک کار اغېزناکه پایله چې دغه ستراتیژیک پلان دی، وړاندې کړ.

په درنښت

نورالله عزیزي

د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی

## د پیل خبرې:

د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځۍ په ۱۳۹۱ لمریز کال کې د بُست پوهنتون له تأسیس سره یو ځای رامنځته او په فعالیت یې پیل کړی دی؛ د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځۍ په خپل تشکیل کې څلور څانګې (قضاء او څارنوالي، اداره او ډیپلوماسي، خصوصي حقوق او نړیوالې اړیکې) لري، چې له هغې جملې څخه یې د اداره او ډیپلوماسی او قضاء او څارنوالۍ څانګی د اوس لپاره فعاله دي. یاده پوهنځۍ د لیسانس په کچه محصلین روزي چې پدې پوهنځۍ کې د لیسانس دوره څلور کلنه ده، چې څلور سمسترونه په مشترک ډول او پاته نور څلور سمسترونه پر څانګو باندې وېشل کېږي او په جلا ډول زده کړې کوي.

د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځۍ د تأسیس له وخته تر اوسه د پوره شفافیت او لوړ کیفیت لرونکې ده او په ښه ډول یې ټول علمي چارې مخته ځي، ځینو استادانو یې د پوهنځي او پوهنتون څخه د ښه کړنو او فعالیتونو له وجې ستاینلیکونه تر لاسه کړي، د ایراسموس پلس نړیوال تحصیلي پروګرام له لارې یې یو تن محصل د اسپانیا هیواد د ډې سانتیاګو پوهنتون ته د لنډ مهاله زده کړو لپاره استولې، د محصلینو د عملي زده کړو لپاره حقوقي کلینیکونه د ( UNDP، USAID) او چیکې عدالت) په ملاتړ او د هغوی سره په تفاهُم او توافق په پوهنځي کې په لاره اچول سوي دي او په خپله غېږه کې یې ډېر ممتاز محصلین روزلي دي.

د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځۍ په ۱۳۹۴ کال کې د لومړي ځل لپاره ۶۲ تنه د لیسانس په کچه په اداره او ډیپلوماسي او قضاء او څارنوالي ډیپارټمنټونو کې فارغان ټولنې ته د خدمت لپاره وړاندې کړل او تر دې مهاله یې (۲۲۵) تنه ښځینه او نارینه فارغ کړي دي.

د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځۍ د بُست پوهنتون د تأسیس سره جوخت په فعالیت پیل کړی، چې په لومړي کانکور کې ۱۰۰ تنه محصلین په دوو ټولګیو کې جذب کړل چې د اووه تنه استادانو لخوا ورته تدریس کېدی، له هغه وروسته د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځۍ تر اوسه ۱۸دوري د کانکور ازموینې اخیستې ده چې ټولټال ۸۳۸ محصلین د حقوقو پوهنځي درلودل چې د هغه جملې څخه یې ۲۵۷ محصلین په (۸) دورو کې فارغ ورکړي دي او اوسمهال یې هم دنهمې (دوري ) کې فارغان لرو چې په نږدې راتلونکې کې یې فراغت غونډه ده . او سمهال د دوو ډیپارټمنټونو (اداره او ډیپلوماسي او قضاء او څارنوالی) - (سیاسي علومو او نړیوالې اړیکې او حقوق) په درلودلو سره شاوخوا ۲۰۰ تنه محصلین په ۸ ټولګیو کې لري، چې د ۲۲ مجربو استادانو لخوا ورته تدریس کېږي او همدارنګه د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځۍ په خپل چوکاټ کې حقوقي کلنیک لري، چې د UNDP او چیکې عدالت نړیوالو مؤسسو څخه حمایه کېږي او په هر کال کې په لسګونو محصلینو ته په حقوقي، قضایي، کورنې او مدني برخو کې زده کړې ورکوي.

د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځۍ د پوهنتون په چوکاټ کې د اعتبار ورکونې پروسې دوهم پړاو په لوړو نمرو پاس کړې او اوسمهال درېیم پړاو ته کاندیده ده، او همدارنګه د بُست پوهنتون په چوکاټ کې د نورو زده کړو لپاره یو تن محصل د هراسموس پلس پروګرام له لارې د هسپانېې هیواد ډیسانټیاګو پوهنتون ته استولی چې په بریالي ډول یې زده کړې پای ته رسولې دي.

د حقوقو او سیاسي علومو په پوهنځي کې وخت پر وخت علمي، عملي او د ظرفیت لوړونې پروګرامونه (ډیپلوماتیک مذاکرې، تمثیلي محکمې، د جرم د پېښې په ځای کې د اثباتیه مدارکو حفظول، د تدریس اړونده پروګرامونه، په دولتي سکتورونو کې بستونو ته د ثبت نام پروسیجر او ...) په لاره اچول کېږي، او همدارنګه د هلمند ولایت د لګف مؤسسې سره په هماهنګۍ یې دوې دورې (۳۰) تنه محصلین د حقوقي کلنیک په برخه کې روزلي.

د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځۍ د پوهنتون په چوکاټ کې د یو معیاري کتابتون څخه برخمنه ده، چې په لکونو فزیکي او الکترونیکي کتابونه پکښې شتون لري او همدارنګه د پوهنځي د کارونو د لا ښه پر مخ بېولو لپاره شپږ کمېټې (د کیفیت د تضمین او لوړاوي کمېټه، د ازموینو کمېټه، د نظم او ډسپلین او شکایاتو ته د رسیدګۍ کمېټه، نصاب او کریکولم کمېټه، د علمي څېړنو کمېټه او د الکترونیکي زده کړو کمېټه) لري.

### ۴) د حقوقو او سیاسي علومو د پوهنځي (Vision)

د بُست پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی غواړي په راتلونکي کي د معیاري، علمي  څیړنو او لوړو ظرفیت لرونکو فارغانو په وړاندي کولو سره د حوزې او هیواد په سطحه یوه مخکښه پوهنځۍ وګرځي.

### ۵) د حقوقو او سیاسي علومو د پوهنځي (Mission)

بُست پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځۍ د عصري اسانتیاوو په برابرولو سره د حقوقو، قضاء او څارنوالۍ همدارنګه د عامه اداري او ډیپلوماسي په برخو کي مخکښه کادرونه روزي او د علمي، عملي څیړنو او کارنده مهارتونو په ور زده کولو سره یې ظرفیتونه په ښه ډول رالوړوی، تر څو هیواد او ټولني ته د صادقانه خدمت مصدر  وګرځي.

### د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځۍ ارزښتونه:

- د اسلامي او افغاني ارزښتونو، اعتقاداتو او فرهنګونو مراعاتول.
- په استادانو او محصلینو کي هیوادنۍ مینه راژوندۍ کول.
- په افغانستان کي د ټولو نافذه قوانینو رعایت.
- کیفیت او عدالت ته لومړیتوب ورکول.
- محصلینو ته تشویقي او زده کړیز چاپېریال چمتو کول.
- د علمي کادرونو او کارمندانو تشویقول
- ګروپي کارونه حمایه کول
- له هر ډول سیاسي او قومي تعصبه پاکه اداره رامنځته کول.

### د لوړو زده کړو وزارت د ملي ستراتژیک پلان لومړیتوبونه:

لاندي لومړیتوبونه د لوړو زده کړو وزارت په ستراتژیک پلان کي په نښه سوي دي چي د پوهنتون او پوهنځیو به یې په خپلو ستراتژیکو برنامو کي به یې په پام کي ساتي .

### حکومتولي:

د حقوق او سیاسی علومو پوهنځی د رهبری په راس کې د پوهنځي رئیس،او امرین قرار لري. د دې تر څنګ، په یاده پوهنځي کی ۲۱ تنه استادان لري او د پوهنځیو ترڅنګ لاندې مختلفې کمیټې  لکه (د کیفیت تضمین، څیړنې، کریکولم، ، ستراتژیک پلان جوړونې، نظم او ډسپلین، ازموینو، د بریښنایي زده کړو،) چې ځانګړې کاري لایحې لري، رامنځته کړي. دغه ډول د پوهنځي د  اړونده چارې په معیاري او اکاډمیکه توګه پر مخ ولاړې شي. حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي، ځانګو او د کمېټو د کارونو د ښه پرمختګ په موخه د د پوهنځی  رئیس او امرین او د کمیټو مشران په دوامداره توګه څارنه کوي څو یقیني کړي، چې اړونده چارې په اغېزمن  ډول پرمخ رواني دي. د پوهنځي ریاست په پام کې لري چې د لا اغېزمنتیا په پار نورې لازمې کړنې هم ترسره کړي، نو دا بهیر تل ځاري.

پوهنځی د خپلو ټولو کړنو په برخه کې د لوړو زده کړو وزارت، د بست پوهنتون او د هیواد نافذه قوانین، پالیسی، مقررې او لواېح رعایتوي. او ترڅنګ یې د راتلونکی لپاره د د لازمو برخو کې خپل وړاندیزونه اړونده مراجعو ته لیږو. تر څو د لاښهبود سبب وګرځي.

## علمي او اکاډمیک پروګرامونه:

د یو علمي بنسټ په حیث د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي اصلي دنده د علمي کړنو ترسره کول دي. په همدې اساس، د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی په پام کې لري چې د یو با کیفیته او پرمختللي پوهنځی په توګه بیلابیل ټولنیز او څېړنیز پروګرامونه پر مخ یوسي چې له امله یې په هیواد کې د انساني ژوند په ښه والي او پرمختګ کې پوره ونډه لرلي وي. په دې لړ کې د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي د علمي او اکاډمیکو پروګرامونو د پیاوړتیا لپاره لاندې کړنې ترسره کوي:

1. د تخصصي اومسلکي برخودپرمختګ په موخه نویوعلمي پروګرامونو ایجادول، چې عبارت له ماسترئ پروګرامونو څخه دي
2. د حقوقواوسیاسي علومو پوهنځی اداره دیپلوماسی څانګه کې **د ماسترئ پروګرام ایجاد پروګرام ( ۱۴۰۵ )**
3. د علمي تجربو د شریکولو په موخه له نورو پوهنځیو څخه د استادانو را بلل
4. په خپلواکه توګه د پوهنځي د انکشاف لپاره د نورو اړینو څانګو ایجادول
5. په خپلواکه توګه د پوهنځي د انکشاف لپاره د نورودولتي اداري د مسلکي کسانود تجربی د شیرکولو غوښتنه کول

A. **د نوي څانګو ایجاد** :

نړیوالي اړیکي په حقوقو او سیاسی علومو پوهنځی کي (۱۴۰۳)

حقوقو ریښته په حقوقو اوسیاسي علومو پوهنځي کي (۱۴۰۴)

## په علمي کادر کې وړ او مسلکي استادانو ته پراختیا ورکول:

دا چې د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي د لوړو زده کړو وزارت قانون او مقرراتو سره سم په بیلا بیلو علمي، مسلکي او تخصصي برخو کې ټولنې او سیمې ته کادرونه روزي، نو تل هڅه کوي چې د مسلکي او وړ کادرونو په جذبولو کې لاندې ټکي په پام کې ونیسي:

1. د لوړو زده کړو وزارت قانون د تقرر شرایطو په رڼا کې داسې اشخاص په کادر کې جذبول چې اکاډمیکو ارزښتونو ته ژمن وي.
2. د مسلک او تخصص په پام کې نیولو سره د پیاوړو او مناسبو اشخاصو ګمارل
3. په تقرر کې وړ دوکتور او ماستر تشخیصول او لومړیتوب ورکول
4. په کادر کې د شمولیت لپاره د شفافي پروسې رامنځته کول
5. د پوهنځی د لوړې سویې او لایقو استادانو او غړو ساتنه او له وړتیاوو څخه یې پوره ګټه اخستل
6. د موجوده علمي کادرونو ظرفیت ته وده او پراختیا ورکول
7. په تقرر کې د شمولیت لپاره د شفافي پروسې رامنځته کول
8. د موجوده علمي کادرونو ظرفیت ته وده او پراختیا ورکول.

## د علمي کادري غړو ظرفيت لوړول:

د ادارې او علمي پروګرامونو د هر اړخيز پرمختګ يو مهم لامل د اړوندو ادارو بشري قوا او کار کوونکي ګڼل کيږي. کار کوونکي د مربوطه ادارو د رهبرۍ چارې په ښه ډول ترسره کوي او هم ورته د اهدافو تحقق لپاره بيلابيلې مادي او معنوي سرچينې رامنځته او ورځخه موثره ګټه پورته کوي. پر همدې اساس، د حقوقو او سياسي علومو پوهنځي د پرمختګ او پراختيا لپاره په پام کې لري چې د علمي او اداري کاري ځواک د ظرفيت د کچې د لوړولو په پار لاندې کړنې په راتلونکو کې ترسره کړي:

1. د درلودولو مسلکي او منلو کادرونو څخه د پوهنځي او پوهنتون په پرمختيايي او روزنيزو چارو کې ګټه پورته کول
2. پوهنځی پرسونل ته د نويو اړتياوو د پيژندنې په اړه د داخلي روزنو او ټريننګونو فرصتونونو برابرول
3. دپوهنځی د منلو کادرونو، استادانو او غړو ساتنه.
4. په ښوونيزو مهارتونو، وړتياوو او نوې ټکنالوژۍ باندې د علمي کادرونو سمبالول
5. د ستراتيژيک پلان او کړنلارو د پلي کيدو په اړه د اداري پرسونل روزل
6. پوهو او وړ استادانو له پاره د علمي ، څيړنيزو او عملي پروژو عملي کولو اسانتياوو برابرول.

7. د د پوهنځی رياست او د مختلفو څانګو مشرانو د غوره او پياوړې ادارې لپاره اداري ستراتيژۍ طرحه کولو لپاره رهبري کول.
8. د علمي کادر غړو ته په ماسترۍ او دوکتورا پروګرامونو کې د زده کړو زمينه برابرول
9. د پوهنځی تدريسي غړيو ته د اروا پوهنې نوېو لارو چارو په اړه روزنه ورکول او هم د زده کړې د معاصرو تخنيکونو برابرول.

## لوړو زده کړو ته لاسرسی:

زده کړې د وګړو يو له اساسي حقوقو څخه ګڼل کيږي، چې له نيکه مرغه د هيواد د اساسي قانون له مخې د لسانس او ماسټرۍ ترکچې پورې لوړې زده کړې د دولت لخوا خصوصي تعصيلی نهادو ته د قانون د حکمونو په پام کې نيولو سره د دولت لخوا ورته اجازه ورکول شوي چې د دولتی پوهنتونو سربيره خصوصی موسسات/ پوهنتونونوهم په ياد بخش کې ددې وطن درديدلی ولس ته خدمت وکړي. د حقوقو اوسياسي علومو پوهنځی لوړو زده کړو ته د لاسرسي په موخه علمي پروګرامونه په بيلا بيلو برخو کې د (وخته وروسته) کې پرمخ بيايي. لوړو زده کړو ته په شفافه توګه د لاسرسي په موخه پوهنځي په راتلونکو کلونوکې لاندې کړنې ترسره کوي:

1. د حقوقو او سياسي علومو په برخه کې د لوړو زده کړو د اهميت په اړه عامه وګړو ته د عامه پوهاوي په پار هر اړخيز معلومات وړاندې کول
2. د کانکور له لارې په شفافه توګه زده کړو ته د لاسرسي زمينه برابرول
3. د حقوقو او سياسي علومو پوهنځي د وروستي کال محصلين دولتي ادارو ته ليږل تر څو عملي کارونو ترڅنګ اداری کارمندان او د کورني غړيي لوړو زده کړو ته وهڅوی.
4. د وړتيا او ظرفيت په پام کې نيولو سره بيلابيلوعلمي پروګرامونه ته د محصيلينو ورپيژندل
5. له هر ډول توپير پرته هيوادوالو ته په مساويانه ډول د زده کړو حق ورکول او اسانتياوې برابرول
6. د وخت او بازار د غوښتنو او اړتياوو په پام کې نيولو سره د پوهنتون په تفاهم او همکارۍ د نويو علمي پروګرامونو ايجادول

7. د حقوقو او سیاسي علومو په برخه کې د ټولنې او اړونده خواوو سره د لاسته راوړنو شریکول

## په اسلام کې د ښځینه محصلینو ته د لوړو زده کړو لاسرسی:

دا چې ښځې د ټولنې په بشري ځواک کې له نیمایي څخه زیاته برخه تشکیلوي او د ټولنې په هر اړخیز پرمختګ کې د نارینه و تر څنګ په پراخه کچه اړوند چارې پرمخ بیایي، اړینه ده چې ښځینه هم له نارینه سره په ټولو حقوقو او امتیازاتو کې په مساوي اندازه ونډه ولري. د لوړو زده کړو په پروګرامونو کې هم د ښځینه وو ونډه د نارینه وو په څیر په پام کې نیول شوې. د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي د بست پوهنتون د پلان او پالیسۍ سره سم لوړو زده کړو ته د ښځینه وو د پراخه لاسرسي په موخه لاندې کړنې ترسره کوي:

1) په علمي برنامو کې د جنډر برابروالی په نظر کې نیول
2) ښځینه محصیلینو ته د پوهنځي په علمي پروګرامونو کې ګډون لپاره زمینه برابرول او تشویقول
3) ښځینه محصیلینو ته د لوړو زده کړو ته د تشویق په موخه که د معیاري ټولګي شمیره پوره کړي،
4) ښځینه محصیلینو ته د ځانګې په علمي پروګرامونو کې په جلا توګه ګډون لپاره زمینه برابرول
5) د امکان تر حده ښځینه محصیلینو ته د لوړو زده کړو ته د تشویق په موخه د معیاري ټولګیو او ازاده تدریسی جلا فضا چمتو کول
6) د ښځینه استادانو په علمي کادر بستونوکی شاملول
7) د ښځینه استادانو په علمي کادر کې شاملول ضمینه برابرول
8) د پوهنتون په همکارۍ او تفاهم سره ښځینه لیلیو او ټرانسپورت اسانتیاوو ته وده ورکول.

## د رهبرۍ پروګرامونه:

1) د اړتیاوو په نښه کول او د رفع لپاره یې کوښښونه کول او په پوهنځۍ کی د نظم او دیسپلین تامینول
2) ستونزو او ګواښونو ته رسیدګي او د کارشکنی، تعصب او بې عدالتۍ په وړاندې مبارزه
3) د مراجعینو، استادانو، کارمندانو او محصلانو شکایاتو ته په وخت رسیدګي کول.
4) د پوهنځی رییس، د ځانګو امرین او نور د کمیټو اړوند مسؤلین د دندو د ښه ترسره کولو وړتیاوې لري.
5) د پوهنځي رئیس د رهبرۍ ظرفیت وړونې په موخه تل هڅې کوي. د نوموړې چارې د ترسراوي په موخه یې د اداري کاروونکو لپاره د ظرفیت لوړونې مدیریت رامنځته کړی چې ښه اداري روزنه وویني.
6) مسئولینو ته د کوښښنو، نوښتونو، مسئولیت منلو او صادقانه او شفاف خدمت کولو لپاره انګیزه ورکول.
7) د محصیلینو لپاره بیلابیل روزنیز ټریننګ کورسونه او ورکشاپونه او د عملي کار لپاره زمینه برابرول چې د استادانو او محصیلینو وړتیاوې لوړې کړي.
8) د پوهنتون مشرتابه د چتر لاندې د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي ټول استادان او مسؤلین تشویقوي څو په ملي او نړیوالو روزنیزو پروګرامونو کې فعاله ونډه واخلي او تر راتګ وروسته خپلې تجربې له خپلو همکارانو سره شریکې کړي.

9) د يادې پروسې د څارنې او اغيزمنتيا په موخه د پوهنځي اداره د څارني(د کيفيت د تضمين کميته او تدريسي مديريت) ځانګړي ميکانيزمونه لري څو دا باوري کړي، چې د پوهنځي ټول علمي او اداري کارکوونکي او محصيلين په اغيزمنه توګه د يادو پروګرامونو څخه ګټه پورته کوي.

10) د پوهنځی د تأسيس له وخته تر اوسه د پوره شفافيت او لوړ کيفيت لرونکې ده او په ښه ډول يې ټول علمي چاري مخته ځي، ځينو استادانو يې د پوهنځي او پوهنتون څخه د ښه کړنو او فعاليتونو له وجي ستاينليکونه تر لاسه کړي، د ايراسموس پلس نړيوال تحصيلي پروګرام له لارې يې يو تن محصل د اسپانيا هيواد د ډي سانتياګو پوهنتون ته د لنډ مهاله زده کړو لپاره استولي، د محصلينو د عملي زده کړو لپاره حقوقي کلينيکونه د ( (UNDP، USAID )) او چيکي عدالت) په ملاتړ او د هغوی سره په تفاهُم او توافق په پوهنځي کي په لاره اچول سوي دي او په خپله غيږه کي يې ډير ممتاز محصلين روزلي دي.

11) د قانوني معيارونو او احکامو ، مقررو ، لايحو ، کړنلارو او د امنآ هيت، مشرتابه هيت او د پوهنتون او پوهنځې د علمی شوراګانو د پريکړو تطبيق او څار کول.

## د فساد پر ضد مبارزه:

حقوقو او سياسي علومو پوهنځی د چارو د بهبود لپاره د فساد مخنيوی ته لومړيتوب ورکوي. پوهنځی په پام کې لري چې د خپلو اړوندو چارو په برخه کې د هر ډول فساد مخنيوي په موخه لاندې کړنې ترسره کوي:

1) په پوهنځي کې د فساد اړوند مواردو معلومول او ورته حل لارې پيدا کول.
2) د پوهنځي د اداري چارو څخه څارنه
3) د مجازاتو او مکافاتو د اصل رايجول او پلي کول
4) د هر ډول غير قانوني کړنو مخنيوی کول
5) د پوهنځي د علمي کادر غړيو د وحدت پر روراندې د ستونزو او ننګونو له منځه وړل.
6) د اداري فساد مخنيوي اړوند ټولييز پوهاوي
7) د لوړو زده کړو وزارت او بست پوهنتون په چوکاټ کې د مقرراتو، لوايحو او قوانينو پلي او څارنه کول
8) په پوهنځي کې د فساد اړوند مواردو تشخيص او ورته حل لارې پيداکول
9) د پوهنځی د ټولو ټولګيو څخه څارنه کول.

## بیوروکراسي:

د نړیوال منل شوو بیروکراسۍ د اصولو څخه په ګټه اخیستلو سره د چارو سمبالښت او کارونو تر سره کول زمونږ د لومړیتوبونو څخه دي. .منفي بیروکراسي له سرچینو څخه د اغیزمنې ګټې اخیستنې او ټاکلو موخې ته د رسیدو پر وړاندې د بنسټیزو خنډونو له جملې څخه ګڼل کیږي، پر همدې اساس، د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي تل هڅه کوي چې د چارو د چټکتیا، روڼوالي او موثریت په موخه د منفي بیروکراسۍ د لمنځه وړولو لپاره لاندې کړنې ترسره کړي:

1. د معلوماتي ټکنالوژۍ پر مټ د پوهنځي چارې پر مخ وړل.
2. په اداري پروسو کې د غیر ضروري پړاوونو((Red type لمنځه وړل
3. د اداري کړنو د روڼتیا په موخه د کمپیوټري پروګرامونو څخه ګټه اخیستل.
4. اداري چارو څخه څارنه او ارزونه
5. روزمره اړین او بیړنې اوامر د مکتوب او تحریر پر ځاي په وینا او خبر ورکولو سره تر سره کول.
6. په علمي چارو ګمارل شویو اشخاصو ته د مسولیت په پام کې نیولوصلاحیت سپارل.

## د عملیاتي پلان تائیدول:

د ستراتیژیکو موخو لاسته راوړلو لپاره عملیاتي پلانونو او طرحې د وخت او امکاناتو په نظر کې نیولو سره د مدیریت یو اساسي اصل تشکیلوي، چې چارې په ټاکل شویو وختونو کې په اغیزمنه توګه د مثبتو پایلو په لرلو سره ترسره شي. پر همدې اساس، د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي د چارو د ښه سمون لپاره اړینه بولي چې د ستراستژیکو موخو د ترلاسه کولو لپاره علمیاتي پلانونه ترتیب او لاندې کړنې ترسره کړي:

1. د عملیاتي پلان په جوړولو کې د ښکیلو خواوو شریکول
2. د عملیاتي پلانونو د ترتیب او تایید څخه ډاډ ترلاسه کول
3. د عملیاتي پلانونو د پلي کیدو او تطبیق څارنه
4. د پوهنځي د مربوطه اداري واحدونو د عملیاتي پلان د پلي کیدو شواهد راټولول او د یادو شواهدو پر اساس لازمې کړنې ترسره کول.
5. عملیاتي پلانونو سره سم د اړوندو کړنو راپورونه ترتیب او وړاندې کول
6. د عملیاتي پلانونو د نه اجراء شویو چارو لپاره د تدابیري پلانونو ترتیبول
7. د عملیاتي پلانونو د اجراء لپاره د سرچینو او پایلو په نښه کول
8. د اړونده ادارو سره د تطبیق لپاره د پلانونو شریکول

## د څارنې او رزونې پیاوړې کول:

څارنه او ارزونه د اداري چارو د ښه ترسراوي لپاره د مدیریت په برخه کې مهم اصل دی، چې له مخې یې له یوې خوا د تېروتنو او اشتباهاتو مخنیوی کېږي او له بلې خوا ډاډ ترسره کېږي، چې چارې په معیاري ډول له پلان سره سمې پر مخ روانې دي. پر همدې اساس، څارنه او ارزونه د شفافیت رامنځته کولو او ستونزو د لمنځه وړلو لپاره مهمه کړنه شمېرل او د چارو د پراختیا او پرمختګ سبب ګرځي د څارنې او ارزونې په برخه کې لاندې کړنې ترسره کوي:

1. د پوهنځي رهبرۍ په کچه د چارو څخه لیدنه او تېروتنو د مخنیوي او سمون په موخه لازمې پرېکړې کول
2. د اداري کړنو په هکله له پوره دقت څخه کار اخستل
3. د علمي او اکاډمیکو چارو د ګرندیتوب لپاره له اوږدو پروسو ډډه کول
4. د څارنې او ارزونې لپاره د ځانګړو کمیټو رامنځته کول
5. د وړ نورمونو او معیارونو ټاکل او تطبیق
6. د اړونده دیپارتمنتونو او کمیټو څخه د هغوي د اجرااتو په هکله وخت په وخت راپورونه اخستل.

## توامیتونو پراختیا:

پوهنځي هڅه کوي چې د بیلابیلو ادارو سره تخصص او مسلک ته په کتو سره توامیتونه رامنځته کړي، تر څو ددې لارې همغږي ته زمینه برابره کړي، چې په دې برخه کې ټول سیاسي، اداري، عدلیي او قضایي ارګانونه او نور داخلي او بهرني پوهنتونونه شامل دي.

**د مرستو جذبول:** پوهنځي په دوامداره توګه کوښښ کوي چې د خپلو اړتیاوو د پوره کولو لپاره د مختلفو ادارو او ارګانونو څخه مرستې راجلب کړي، ترڅو له دې لارې پوهنځي ته وده ورکړي.

**د جندر مسئایل:** د ټولنیز ژوند د پرمختګ او ټولنې هر اړخیزې ودې لپاره نارینه او ښځینه پرته له کوم تبعیض او امتیاز څخه په ګډه د اړوندو چارو په ترسره کولو کې فعاله ونډه اخلي. دا چې افغانستان د څو لسیزو داخلي جګړو او ورانیو له کبله په بېلابېلو برخو کې ویجاړ او وروسته پاتې شوی چې له امله یې د ښځو ونډه د سړیو پرتله کمه شوېده. لازمه ده چې ښځې هم د سړیو په څېر په ټولو عدلیي او قضایي ارګانونو، اداري او مسلکي کړنو کې د امکان تر بریده په فعاله توګه ونډه واخلي، څو د بشري قوې شته تشه ډکه او چارې په معیاري شکل ترسره شي او هم ښځې له خپلو حقوقو برخمنې شي. د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي د ننګرهار پوهنتون د علمي بنسټ په توګه په پلان کې لري، چې د نارینه وو تر څنګ ښځو ته هم په علمي اواکاډمیکو برخو کې مساوي ونډه ورکړي، چې پدې برخه کې لاندې کړنې ترسره کوي:

1. په علمي او تحصیلي پروګرامونو کې د نارینه محصیلینو ترڅنګ د ښځینه محصیلینو شمېر زیاتوالي ته پوره پاملرنه
2. ښځینه کادرونو ته د امکان تر بریده زمینه برابرول
3. د نظري زده کړو تر څنګ ښځینه محصیلینو ته د عملي زده کړو پراختیا
4. ښځینه محصیلینو ته د بیلابیلو سهولتونو برابرول
5. د ښځینو د وړتیاوو لوړول او په چارو کې شریکول

## ستراتیژیکي موخې:

د ستراتیژیکو موخو لاسته راوړلو لپاره پلانونو او طرحې د وخت او امکاناتو په نظر کې نیولو سره د مدیریت یو اساس او اصل تشکیلوي، چې چارې په ټاکل شویو وختونو کې په اغېزمنه توګه د مثبتو پایلو په لرلو سره ترسره شي. په همدې اساس حقوقو او سیاسی علومو پوهنځۍ د چارو د ښه سمون لپاره اړینه بولي چې د ستراستژیکو موخو د ترلاسه کولو لپاره پلانونه ترتیب او لاندې کړنې ترسره کړي.

- د نړیوالو معیارونو مطابق د محصلانو د روزلو لپاره تلاش کول.
- د محصل محوری، تخصصیتوب، علمیت او د ظرفیت لوړوني د روحیې پیاوړي کول.
- د کیفیت د لوړاوي په برخه کې اکاډمیک اعتبار اخیستل.
- د اوس په پرتله د دوه چنده زیاتو محصلانو جذبول.
- علمي څېړني او څېړنیز فعالیتونه د اوس په پرتله پنځوس سلنه پراخول.
- د پوهنځۍ د تشکیلاتو پراخول.
- د ښه، وړ او معیاري اداري سیستم رامنځته کول.
- له دووتر دریو نړیوالو پوهنتونو د اړوند حقوقو  او سیاسی علومو پوهنځۍ سره د اکاډمیکو همکاریو او د ظرفیت لوړونې پروګرامونو هوکړه لیکونو لاسلیکول.
- له څلور تر پینځو داخلي پوهنتونو د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځۍ سره د اکاډمیکو همکاریو او د ظرفیت لوړونې پروګرامونو هوکړه لیکونو لاسلیکول.
- په حقوقو او سیاسی علومو پوهنځۍ کې دوي نوي (نړیوالي اړیکي او خصوصي حقوق ) څانګې ایجادول
- د حقوقو او سیاسی علومو لپاره پوهنځۍ او د یادي پوهنځۍ دواړو څانګو لپاره یو معیاري کتابتون ایجادول.
- د قضا او څارنوالي څانګې  حقوقي کلینک ته پراختیا ورکول.
- اداره او ډیپلوماسی څانګې ته اداري ستاج فعالول.
- اداره او ډیپلوماسی څانګې کې د ماسټری پروګرام ایجادول
- د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځۍ لپاره دعلمي او څېړنیز ی  مجلی ایجادول

## ستراتیژیک پلان کې  پنځه ګونې شاخصونه:

1. **علمي څېړنه او پلان جوړونه** :

په نړیواله کچه څېړنې او د څېړنو لپاره پلان جوړونه دپوهنځۍ او پوهنتون د ودې او پرمختګ په برخه کې خپل ځانګړی رول لوبوي. هره ټولنه د ستونزو د حل او پرمختګونو رامنځته کولو په غرض علمي څېړنې ترسره کوي. د څېړنو پواسطه پوهنځۍ په خپلو اړیکو کې د نورو ادارو سره همکاري کوي، چې په نتیجه کې یې هم ټولنه له ستونزو خلاصیږي او هم له نورې نړۍ سره د سیالۍ جوګه کیږي. حقوق او سیاسی علومو پوهنځۍ فعلا علمی څېړنیز فعاله  کمیټه لری چی د څېړنی او تحقیقاتو په برخه  کی د پوهنتون د علمی څېړنیز اصلی کمیټی په همکاری فعالیتونه کوی .

**د استادانو او محصلانو تحقیقاتی او څېړنیز فعالتونه:**

د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځی اکثره استادان د مقالو په لیکلو او هم د تدریسی کتابونو په لیکلو بوخت دی پدی اړه د موادو په راټولو اخته دی . د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي په راتلونکو کلونو کې ژمن دی چې د علمي څېړنو د ترسره کولو او ودې ورکولو لپاره لاندې پلان تطبیق کړی:

| د مقالو شمیر | کال | کال | کال | کال | کال | جمله |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | ۱۴۰۱ | ۱۴۰۲ | ۱۴۰۳ | ۱۴۰۴ | ۱۴۰۵ | ۳۶ |
| | ۶ | ۶ | ۷ | ۸ | ۹ | |

همدارنګه د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځی د دواړو څانګو استادانو له خوا هر کال درسی مواد او چیپټرونه د کریکولم او مفرداتو مطابق نوی کوی.

استادانو ته د تحقیق په برخه کی د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځی د ریاست له خوا معلومات ا وسیمینارونه هم ورکول شوی او ورکول کیږی چی دوی څنګه او په کومو میتودونو سره تحقیق تر سره کړی ۰

**د محصلانو تحقیقاتي فعالیتونه:**

ټول فارغ التحصیل کیدونکو محصلانو ته دمونوګراف د لیکلو لپاره د څانګو له خوا موضوعات ورکول کیږی او یو استاد ورته د لارښود په حیث ټاکی چی لارښود استاد یاد محصل سره د مونو ګراف موضوع په څیړلو کی هر اړخیزه مرسته کوی همدارنګه علاوه د لارښود استاد د سمسترونو په جریان کی دوه مضامین یو د څیړنی بنستونو په نامه او بل هم د مونوګراف لیکنی لارښود په نوم محصلانو ته تدریسیږی تر څو د محصلانو د تحقیق کولو کچه لوړه شی ۰

سره له دی هر سمستر په جریان کی محصلانو ته د استادانو له د عملی کارونو لپاره اړوند مضمون مطابق موضوع ورکوی تر څو ورباندی کار وکړی او د سیمینار په ډول یی خپلو ټولګیوالو ته وړاندی کړی۰

## 2. په ټولنه کې د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځی ونډه:

د حقوق او سیاسی علومو پوهنځی له تاسیس څخه بیا تر دی مهاله په سلګونو په علم سمبال په مسلک برابر محصلان ټولنی ته د خدمت لپاره وړاندی کړی دی ، همدارنګه د حقوقو پوهنځی حقوقی کلینیک محصلانو هم په جزایی او مدنی برخو د ټولنی د افرادو لپاره بلاعوضه حقوقی مشوری ور کړی دی ۰

فعلا د حقوق او سیاسی علومو پوهنځی فارغ التحصیل محصلان په داخل د ولایت او د ولایت څخه خارج نورو ولایاتو کی په مسلکی او غیر مسلکی برخو کی په دنده بوخت دی ۰

همدارنګه د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځی برحاله او فارغ محصلان ځوانان یی علم او پوهی ته دعوت کړی دی تر څو دوی د نشه یی او نورو ناوړه دودونو څخه خوندی پاتی شی او ټولنه کی د یو بااحساسه او با مسولیته شخص په توګه راڅرګند شی

### 3. د حقوق او سیاسي علومو پوهنځی عایدات:

د بست پوهنتون حقوق او سیاسی پوهنځی اوس مهال دوه فارغ ورکوونکی (اداری او دیپلوماسی ، قضااو څارنوالی ) څانګی لری چې د تحصیلی خدماتو له لاری د عوایدو راټولول (تحصیلی فیس، او د کانکور فیس)

د ثابتو شتمنیو زیاتوالی

د څیړنو پر مټ د عوایدو راټولول (څیړنیزی پروژی)

د حقوقو او سیاسی علومو نظریي ذده کړو ترڅنګ حقوقي کلینک هم لري چې په دي سره د عوایدو راټولولو منبع هم کیدای شي. اود محصلانو په ظرفیت په لوړوني کې هم رغنده رول اجرا کوي او حقوقي مشروي ورکوي.

### 4. ټکنالوژي:

د بست پوهنتون د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځي تدریسی او اداري چاري اوس مهال د ټکنالوژي په مټ سرته رسیږي. د یادي پوهنځي ټولي اداري چاري ،لکه مالي چاري ،د محصلینو نتایج، تدارکاتي چاري ،نشراتي چاري او پوهنځي پوري نور اړوند کارونه ټول منظم ډیتابیس له مخي وړل کیږي.

نتایج، شوقي ،حاضریاني د منظم ډیتابیس له مخي ځای پرځای کیږي او بیا پرنټیږي.هر سمیسټر کې چې وروستي ازموینه واخیستل شي،سملاسی محصلان کولي شی چې خپلي نمری، دنمروسلنه، د حاضري او غیر حاضري نمري،عملی کارنمري، د خپل ځانګړي نوم او شفرد داخلیدو په وسیله په ډیتابیس کې وګوري. د امالومات محرم دي ،هیڅ محصل د بل محصل له نمرواو نمروله سلني نه شي خبریدلی.

دغه راز مونتایج هم ټول د منظم ډیتابیس له مخي جوړیري چې هر محصل ته خپل حق رسیږي، په یوه ټولګي کې هغه محصل چې نمري یې تر نورو لوړي وي ، په اتومات ډول د حاضری سرته راځي ، ورپسی د هغه محصل نوم راځي چې دویم نمره وي، په همدي ترتیب تر وروستیو پوري

د غه راز مو د مالي مدیریت سره په همغږي د محصلینو فیسونه هم ډیتابیس ته رسیږي،چې د حقوقو او سیاسی علوموپوهنځي لپاره پکي جلا یوز او افشن شته دي ،هغه محصل چې فیس یې ورکړي وي نوم یې ډیتابیس کې ثبتیږي او تعرفه او د هویت کارت هم هر سمیستر کې ورکول کیږي.

**تدریسي چاري:**

ټولي تدریسي چاري مو دتکنالوژي په وسیله مخته ځي. د حقوقو پوهنځي د ټولو څانګو ټولو ټولګیو کې پراجکټورونه شته دي چې هر استاد خپل تدریس د سلایډ ، پراجکټور او LCD په وسیله کوي.دغه راز که کوم محصل سمینار وړاندي کوی هم د پراجکټور په وسیله یی وړاندي کوي.د پراجکټور , LCD ترڅنګ هر ټولګي کې سپینه تخته او مارکر هم شته چې د اړتیا پرمهال استادان او محصلین ګټه تري اخلي .

**بریښنایی کتابتون / هارد کتابتون :**

حقوقو اوسیاسی علومو پوهنځي، د بست پوهنتون عمومی کتابتون کې د خپلو څانګو اړوند هارد او سافټ کتابونه لري چې هاردکتابونه هم د یومنظم ډیټابیس په وسیله محصلینو ته ورکول او دوي پسي د یوي اووني ثبتیږي.

د حقوقو او سیاسی علوموپوهنځی هڅه کوي چې لا هم ټکنالوژي په مټ خپلو محصلینو ته امکانات برابر کړي او دوي ته په ملي او نړیواله کچه د ټکنالوژي په مټ د کنفرانس نو او زده کړي زمینه برابره کړي.

.د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي په راتلونکو کلونو کې ژمن دی چې د علمي څیړنو د ترسره کولو او ودې ورکولو لپاره لاندې پلان تطبیق کړی

| شمیره | کتابتون ډول | کال | کال | کال | کال | کال | جمله |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | کلونه | ۱۴۰۱ | ۱۴۰۲ | ۱۴۰۳ | ۱۴۰۴ | ۱۴۰۵ | پنځه کال |
| ۲ | هارد کتابتون | ۱۰۰ جلده | ۱۰۰جلده | ۱۰۰جلده | ۱۰۰جلده | ۱۰۰جلده | ۵۰۰ جلده |
| ۳ | سافت کتابتون | ۴۰جلده | ۴۵جلده | ۵۰جلده | ۵۵جلده | ۶۰جلده | ۲۰۰ جلده |

## 5. نړیوال فعالیتونه:

د بست پوهنتون د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځي په پام کې لاري کې چې په حقوقي او سیاسی برخو کې په نړیواله او سمیه ییز کچه علمي او تحقیقاتي فعالیتونه تر سره کړي.

### د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي د استادانو نړیوال فعالیتونه:

د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځي د استادانو لپاره په پلان کي لري چې خپلي علمي مقالي او تحقیقات د ټولنیزو شبکو او نړیوالو ویبپاڼو له لاري د نړي په لر او بر کې له خلکو سره شریکي کړي او خلک تری نه ګټه واخلی ،دغه راز د حقوقوپوهنځي داستادانو له خود کتابونو د لیکلو او تحقیق چاري به ددي پلان سره سم مخته ولاړ شي .

د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځي په پلان کی لری چې محصلین له تحقیق سره اشنا کړي او دوي لیکل شوي مقالي به د یادي موسسی د فیسبوک، بریښنالیک او ویباني له لاري په نړیواله کچه له نورو سره شریکی کړي ،

اوس مهال هڅه کیږي چې د نړۍ له نورو پوهنتونو سره د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځی استادان او محصلین د سکایپ، واتساپ، Zoom and Bost Online Application او برېښنالیک له لارې وصل شي، د دوي له تجربو او نظریاتو ګټه واخلي او عملی يې کړي .

## د نصاب پراختیا:

دا چې نړۍ او ټولنه په دوامداره توګه د بدلون او پرمختګ په حال کې ده، نو د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی اړ ده،چې د خپلو علمي پروګروامونو کریکولمونه د وخت، بازار او نورو ښکیلو خواوو د غوښتنو او اړتیاوو په پام کې نیولو سره د کریکولم د بیاکتنې په ترڅ کې د نصاب موضوعاتو کې وخت په وخت نوي او مثبت بدلونونه رامنځته کړي. حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی د خپلو اړوند علمي پروګرامونو د مثبت بدلون په موخه په راتلونکو کلونو کې لاندې کړنې ترسره کوي:

1. د پوهنځی په کچه د کریکولم د کمیټو پیاوړي کول
2. د کریکولم کمیټي غړو لپاره د اصلاحاتو په موخه نوې کړنلارې او پالیسۍ تهیه کول
3. د پوهنځی اودپارتمنتونو په کچه د علمي کادر غړو لپاره د کریکولم د نوي والي او سمون په موخه د لازمو ترینګونو چمتو کول
4. د پوهنتون په همکارۍ د کرېکولم په بیاکتنه او پراختیا کې د متخصصو اشخاصو، فارغانو او کار ګمارنې مراجعو سره مشورې کول.
5. له اړتیا سره سم د پوهنتون د کریکولم کمېټې سره د کریکولم په بیا سمون او انکشاف کې ملتیا
6. د پوهنتون په همکارۍ له نړیوالو معتبرو پوهنتونونو څخه د نویو چاپ شویو خېړونو او کتابونو ترلاسه کول
7. له کریکولم څخه د مطلوبو موخو د لاسته راوړلو په غرض ارزونه
8. له تاکل شوي کریکولم سره سم د درسي موادو تهیه او برابرول
9. د کریکولم د پلي کیدو څخه د ډاډ په موخه د اړوندو علمي پروګرامونو څخه راپورونه راټولول
10. د لوړو زده کړو وزارت نوي ستراتیژیک پلان یو هدف د لوړو زده کړو په برخه کې د تدریس عنعنوي میتود په (OBEد موخو په اساس زده کړې) او (SCLشاګرد محوري) بدلول دي.

## د کرېدت سیستم پیاوړتیا او پلی کول :

د نن سبا د نړۍ زیات شمیر پوهنتونونه د کریډیټ سیستم د اصولو په رڼا کې خپل روزنیز پروګرامونه پر مخ بیایي او له دې لارې د محصیلینو د ښو پایلو لرونکو زده کړو او اسانتیاوو زمینه برابروي چې له یوې خوا محصلین وکولای سی له خپل توان سره سم د زده کړو بهیر پرمخ یوسي او له بل پلوه د نظري زده کړو سره په څنګ کې د اړوندو عملي زده کړو له اسانتیاوو څخه هم برخمن شي. پوهنځی د کریډیټ سیستم زده کړو د پیاوړتیا او معیاري کیدو په پار لاندې کړنې په پام کې لري:

1. د پوهنتون په همکارۍ علمي کادر ټولو غړو ته د کریډیټ سیستم د عملي کیدو په اړه روزنیز ورکشاپونه پیلول
2. د کریډیټ سیستم د موثریت په اړه محصیلینو ته معلومات ورکول
3. په اړوندو څانګو کې د کرېډیټ سیستم عملي کیدو څارل

4. د کرېډيټ سيستم په ښه بڼه د پلي کيدو په هکله تدريسي او اجرايوي مديرانو ته پوهاوی ورکول
5. د پايلو پر بنسټ د زده کړو په نتيجه کې د کرېډيټ لايحې موخې ترلاسه کول
6. د شاګرد محوری د زده کړو دودول
7. د کرېډيټ لايحې په اساس د عملي زده کړو پياوړي کول
8. د ټرانسکرېپټونو د ترتيب په برخه کې د نمرو درجه بندي د فيصدی تر څنګ د GPA په سيستم برابرول

## د کيفيت تضمين او اعتبار ورکول:

د حقوقو او سياسي علومو پوهنځي د خپلو ملي او نړيوالو تحصيلي معيارونو په رڼا کې د خپلو خدماتو د ښه باور ترلاسه کولو په موخه تل هڅه کوي چې په خپلو علمي او څېړنيزو پروګرامونو کې بهتروالی راولي. نوموړې چارې د ملي او يا هم د نړيوالو اعتبار ورکونکو ادارو لخوا دبيا کتنې او ارزونې پروسو په بهير کې ارزول کيږي چې په پايله کې يې اړوند پوهنتون او پوهنځی خدمات د اعتبار بيلابيلې درجې ترلاسه کوي او د علمي او څېړنيزو چارو د نوي والي او غوره والی سبب ګرځي. د حقوقو او سياسي علومو پوهنځي په راتلونکو کلونو کې د ښه باور او اعتبار ترلاسه کولو لپاره د کيفيت د تضمين او اعتبار ورکولو په برخه کې لاندې کړنې تر سره کوي:

1. د کيفيت د تضمين او لوړولو په موخه د مسلکي کاري کميټې رامنځته کول
2. د کيفيت د تضمين د لوړولو په موخه د مسلکي کاري ټيم رامنځته کول
3. په ملي او پوهنتون په کچه د پوهنځي د خدماتو کيفيت او درجې لوړول
4. په پوهنتون کې د پوهنځيد اعتبار زياتولو لپاره د ټولنيزو ستونزو په حل کې فعاله ونډه اخستل
5. په پوهنځی کې د ښو زده کړو ټولې اسانتياوې برابرول
6. د نظري زده کړو په څنګ کې عملي زده کړو ته اسانتياوې برابرول
7. د کيفيت د ښه والي په موخه د نورو پوهنځيو سره همغږې
8. په زده کړو کې د تدريس نويو ميتودونو څخه ګټه پورته کولو لپاره اسانتياوې برابرول
9. د پوهنځي او په ټوله کې د پوهنتون د ستراتيژيکو موخو د تحقق لپاره د حقوقو او سياسي علومو پوهنځي او ځانګو تر منځ د همغږې رامنځته کول
10. د روزنيزو پروګرامونو پياوړتيا او عامول
11. محصيلنو، اداري او علمي کادر غړيو ته کيفيت د ښه والي د معيارونو په هکله عامه پوهاوی ورکول
12. په ټولنه کې د پوهنځي د اعتبار زياتولو لپاره د ټولنيزو ستونزو په حل کې فعاله ونډه اخستل
13. دپوهنځی په وسيله د اړونده پروسې خدماتي څارنه او ارزونه.

## د برېښنايي زده کړو پروګرامونه:

دا چې د نن عصر د ضرورتونو او غوښتونو سره سم په نړيواله کچه علمي پروګرامونه د حضوري زده کړو تر څنګ د غير حضوري زده کړو پروګرامونه پر مخ وړي او د شته امکاناتو پر مټ د خپلو خدماتو پوښښ ته پراختيا ورکوي ، دې موخې ته د رسيدو په مقصد علمي پروګرامونه په خپلو خدماتو کې د ټکنالوژۍ ونډه زياته او موثره ګټه ترې پورته کوي. د علمي او څېړنيزو بهيرونو د پياوړتيا او موثريت لپاره

علمي پروګرامونه خپلو اړوند ښکیلو خواوو ته د برېښنايي اسانتیاوو په چمتوکولو سره هر اړخیز نوی والی او مثبت بدلون رامنځته کوي. د حضوري علمي پروګرامونو سره په څنګ کې علمي پروګرامونه اړ دي چې د انلاین کورسونو او ګډو زده کړو لپاره د انلاین سرچینو اسانتیاوې رامنځته او د عصري ټکنالوجو د استعمال او استفادې څخه مثبته ګټه پورته کړي . د پوهنځي د برېښنايي زده کړو د دوام او پرمختګ په موخه د برېښنايي زده کړو فعاله کمیټه لري، چې د پوهنځي د علمي کادر غړیو او محصیلنو لپاره برېښنايي خدمتونه وړاندې کوي، دغه راز دغه کمیټه به په راتلوونکي کې خپلو خدمتونو کې زیاتوالي رامنځته کړي.

## د زده کړیالانو لپاره د خدماتو او اسانتیاوو پیاوړتیا:

د حقوقو اوسیاسي علوموپوهنځی هڅه کوي تل په خپلو علمي او خدماتي چارو کې محصلینو ته د پام وړ سهولتونه برابر او غوره پایلو په لرلو سره محصلین وروزي. څو پوهنځی د سیمې او هیواد په کچه د محصیلینو توجه او رضایت خپل کړي. د خدماتو او سهولتونو په وړاندې کولو سره پوهنځي غواړي چې له یو پلوه په علمي برنامو او پوهنتون کې خپل حیثیت لوړ کړي او له بل پلوه له همدې لارې مالي او مادي امکانات پراخه کړي. پوهنځی د غوره خدماتو او اسانتیاوو د پیاوړي کولو په موخه لاندې کړنې ترسره کوي:

1. د پوهنتون په همکارۍ محصیلینو ته د علمي سفرونو زمینه برابرول
2. محصلینو ته د زده کړو د برابرولو ترڅنګ، د لازمو مهارتونو چمتووالی
3. د پوهنتون، پوهنځي د وېبسایټ او فیس بوک ګروپونو له لارې محصلینو ته پوره معلومات په واک کې ورکول
4. د محصلینو وړاندیزونو او شکایاتو ته لاسرسی
5. د علمي او عملي زده کړو په برخه کې محصلینو لپاره اړوندو سکتورونو سره د تواميتونو رامنځته کول
6. محصلینو ته د عملي پیاوړتیا په موخه د بیلابیلو تمثیلي محکمې، ډیپلوماتیکه مذاکره ، ګیرډي میز، پروګرامونو او سمینارونو چمتو کول
7. د پوهنتون د امکاناتو په پام نیولو سره محصلینو (ښځینه او نارینه) لپاره جلا ټرانسپورټ ته پراختیا ورکول
8. د محصلینو د علمي ظرفیت لوړاوي په موخه کتابتوني اسانتیاوو ته پراختیا ورکول
9. د محصلینو د علمي ظرفیت لوړاوي په موخه په پوهنځی کي د ډیپارټیمنټونو په تفکیک جلا جلا کتابتوني اسانتیاووبرابر ول.
10. محصلینو ته د ښې زده کړې لپاره د مناسب چاپیریال رامنځته کول
11. په نړیوالو علمي سیالیو کې محصیلینو ته د برخې اخستنې زمینه برابرول
12. د پوهنځي د چاپیریال او اړونده چارو د سمون په موخه د حشر او داوطلب کارونو لپاره د زده کړیالانو هڅول
13. د زده کړیالانو لپاره د Internship د پروګرامونو ترلاسه کول او تنظیمول
14. د ټولنې سره د مرستې لپاره د ټولنیزو خدماتي ډلو تنظیم.
15. محصلینو ته د څېړنو په برخه کي عملي اقدام اخیستل او په راتلونکی محصیل ته د څېړني امکانات برابرول

## د محیطیعواملو تحلیل  (SWOT Analysis) :

ستراتیژیک پلان د پوهنځي ستراتېژیکې موخې ټاکي او همدغو موخو ته د رسیدو لپاره مسیر او اړوند لازمي کړنې په نښه کوي. موخې ته رسیدل تر هغې شونې ندي چې ترڅو پوهنځي خپله پیاوړتیا، کمزورتیا، فرصتونو او تهدیدونو څخه خبر او پر لاملونو یې غور ونکړي.

د دې لپاره چې پوهنځي د پورته ذکر شویو ټکو په اړه پوره معلومات له ځانه سره ولري، لازمه ده، چې د راتلونکو پنځو کلونو لپاره خپل معنوي او فزیکي انځور خپلې مخې ته کیږدي او خپلې ټولې مادي او معنوي زیرمې په هر اړخیزه توګه و ارزوي چې په نتیجه کې د راتلونکو پرمختګونو او موخو ته د رسیدو بشپړ پلان ولري. پوهنځی یادې موخې لاسته راوړلو لپاره د SWOT لاندینۍ تحلیل ترسره کوي:

### د حقوقو او  سیاسي علومو  پوهنځي د قوت ټکي ( Strength):

- ښه ستراتیژیک موقعیت
- په پوهنځی کې د ماستري په کچه د استادانو درلودل
- د دوکتوري په کچه د استادانو درلودل
- په ټولنه کې د حقوق او سیاسی علومو پوهنځي سره د نوی نسل لیوالتیا
- د فارغو محصلینو وړتیا او د ګمارنی لپاره مناسب تخنیکی پوهاوی
- د استادانو او اداری تر منځ ښه همږغي  او ارتباطاتو (کمیونیکیشن) په ډیره ښه توګه پر مخ تلل
- د موسس لخوا مالی ملاتړ
- د پوهنځۍ په کچه د قوی رهبری موجودیت
- د پوهنځۍ په سطحه د شفافیت موجودیت
- دواړو ځانګو ته وړکي کتابتون جوړول
- د کریکولم په ښه  ډول تطبیق او د اړوند مضامینو ریفرینسونه درلودل.
- د پوهنځي په کچه ښه او غوره امکانات
- د پوهنتون د رهبری سره ښه همغږي درلودل.

### د حقوقو او سیاسي علومو  پوهنځی کمزوري ټکي (Weakness) :

- داداري تشکیل کمیښت
- په کافی اندازه دکتورا لرونکو استادانو نه درلودل.
- د علمی لوړ رتبه استادانو نشتوالی
- د څیړنیز علمی مقالو نشتوالی

- د ښځینه محصلینو کموالی
- د استادانو د دندي د خوندیتوب نشتوالي
- د کامل کدرې سیستم نشتون
- د انټرنیټ نه شتون
- د مجزاتو او مکافاتو د توازون نه ساتل

**د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی د فرصتونه ( Opportunities) :**

- په بهرنیو هیوادونو کې د استادانو او محصلینو لپاره د زده کړې لپاره زمینه
- د ښار په منځ کي د بست پوهنتون موقعیت چی د ښځینه محصلان په اسانه توګه رسیدګي کولای سی.
- د مجهز فزیکي ، او الکترونیکي کتابتون شتون.
- دحقوقو او سیاسی علومو  پوهنځي فارغانو ته د کار پراخ مارکیت
- د مجهز کمپیوټر لب شتون
- په بست پوهنتون کي د عملی ظرفیت لوړونی پروګرامونه .
- په پوهنځی کي د حقوقي کلینک درلودل.
- د حقوق او سیاسی علومو پوهنځی د عمليٍ زده کړو اړوند ادارو سره ښه همکاري درلودل.
- په غیررسمي وخت کي د پوهنځي د تدریسي بهیر شتون.
- ولایاتو ته علمي سفرونه

**د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی تهدیدونه او ننګوني:**

- د هیواد بد اقتصادي وضعیت
- د علمي رتبو نشتوالی
- د ښځینه محصلینو په وړاندی ټولنیز خنډونه.
- د امنیت نشتوالی.
- د ولایت په سطحه د انټرنیټ کمزوری کیفیت
- د کرونا وایروس دواموالي

**(IFEM) Internal Factor Evaluation Matrix د داخلي عواملو ماتریکس**

| موزون ضریب | امتیازي ضریب | وزني ضریب | فکتور | شماره | |
|---|---|---|---|---|---|
| 0.88 | 4 | 0.22 | د تجربه لرونکو استادانو شتون | .1 | Strengthens |
| 0.612 | 3.5 | 0.18 | د عملی کارونو شتون | .2 | |
| 0.442 | 3.6 | 0.17 | ښه ژمنتیا درلودل | .3 | |
| 0.24 | 3.4 | 0.13 | منظم تدریسی سیستم | .4 | |
| 0.24 | 2 | 0.12 | د کادري سیستم نه شتون | .5 | Weakness |
| 0.126 | 1.8 | 0.07 | د انټرنیټ نشتون | .6 | |
| 0.09 | 1.5 | 0.06 | په پوهنځی کي د څیړنو کموالي | .7 | |
| 0.065 | 1.3 | 0.05 | د وظیفی نه تظمین | .8 | |
| 3,085 | 21 | 1 | جمله | .9 | |

**(EFEM) External Factor Evaluation Matrix دخارجی عواملو ماتریکس**

| موزون ضریب | امتیازي ضریب | وزني ضریب | فکتور | شماره | |
|---|---|---|---|---|---|
| 0.75 | 4 | 0.1875 | د حقوقی کلینګ درلودل | .1 | Opportunity |
| 0..4921875 | 3.5 | 0.140625 | په غیر رسمی وخت د پوهنځی شتون | .2 | |
| 0.371875 | 3.4 | 0.109375 | د عملی ذده کړو لپاره د نورو ادارو سره ښه اړیکي درلود | .3 | |
| 0.3 | 3.2 | 0.09375 | د حقوقو د پوهنځی فارغانو ته د کار پراخ مارکیت | .4 | |
| 0.28125 | 2 | 0.140625 | د علمي رتبو نشتوالي | .5 | Threats |
| 0.225 | 1.8 | 0.125 | د هیواد بداقتصادي حالت | .6 | |
| 0.1859375 | 1.7 | 0.109375 | د ولایت په سطحه د انټرنیت ظعف کیفیت | .7 | |
| 0.1125 | 1.2 | 0.09375 | د ښځینه محصلینو په وړاندي خنډونه | .8 | |
| 12,71875 | 20,8 | 1 | | .9 | جمله |

د

**سوات ( SWOT)  ماتریکس تحلیل**

| | | |
|---|---|---|
| داخلي عوامل<br>Internal Factor | د قوت ټکي : S | کمزوري ټکي W |
| | د تجربه لرونکو استادانو شتون | د کادري سیستم نه شتون |
| | د عملی کارونو شتون | د انټرنیټ نشتون |
| | ښه ژمتیا درلودل | په پوهنځی کي د څیړنو کموالي |
| | منظم تدریسی سیستم | د وظیفی نه تظمین |
| External Factor<br>**باندني عوامل** | **فرصتونه O** | **تهدیدونه T** |
| | د حقوقی کلینګ درلودل | د علمي رتبو نشتوالي |
| | په غیر رسمی وخت د پوهنځی شتون | د هیواد بداقتصادي حالت |
| | د عملی ذده کړو لپاره د نورو ادارو سره ښه اړیکي درلود | د ولایت په سطحه د انټرنیت ظعف کیفیت |
| | د حقوقو د پوهنځی فارغانو ته د کار پراخ مارکیت | د ښځینه محصلینو په وړاندي خنډونه |

## د پوهنځی د ستراتژیک حالت ټاکنه:

د پورته تحلیل پربنسټ د بست پوهنتون د حقوقو او سیاسی پوهنځي د موجوده ستراتژیک حالت په لاندي ډول تعین سوي دي:

| کمزوري ټکي | قوي ټکي | داخلی او خارجی عوامل / اوسط نهائی نمره | |
|---|---|---|---|
| 0,521 | 2,17 | | |
| **2,43**<br>**محافظه کارانه حالت** | **4,14**<br>**تهاجمی حالت** | 1,91 | **فرصتونه** |
| **1,32**<br>**تدافعی حالت** | **2,97**<br>**رقابتی حالت** | 0,80 | **تهدیدونه** |

## د پوهنځی موخې او اهداف:

د حقوقو اوسیاسي علومو پوهنځی ستراتیژیک پلان جوړونې څخه موخه د لوړو زده کړو د بهیر چټکتیا او ښه والی دی تر څو په ټولنه کې د شته ناورینونو او ستونزو پای ته رسیدو په برخه کې خپله ونډه واخلي. د حقوقو اوسیاسي علومو پوهنځي د ټاکلو ارزښتونو، لیدلوري او معیارونو په پام کې نیولو سره داسې وړ، مسلکي او معیاري کادرونه روزي چې د ټولنې په پرمختګ او د ستونزو په حل کې د خدمت وړاندي کولو جوګه شي. پوهنځي پورته ارزښتونو او لیدلوري ته د رسیدو په موخه په راتلونکو پنځو کلونو کې لاندې اهداف تعقیبوي:

1. د علمي او څیړنیزو چارو په برخه کې په ملي او نړیوالو معیارونو برابر پوهنځی رامنځته کول
2. د بیلابیلو علمي او تخصصي پروګرامونو د پلي کیدو لپاره د معیاري تدریسي او کاري خونو وسایلو برابرول
3. د لوړو زده کړو په برخه کې د روڼ او شفاف بهیر رامنځته کول
4. د څېړنو پر مټ د ټولنې ستونزو پیژندل او ورته مناسبې حل لپاره پیدا کول
5. د وخت او اړتیاوو له غوښتنو سره سم په حقوقي، اداري ، سیاسي او عدلیي او قضایي برخو کې د مسلکي اشخاصو روزل
6. د لوړو زده کړو له لارې د قانون حاکمیت، ټولنیز عدالت، او اقتصادي ودې تامینولو ته زمینه برابرول
7. د وګړو د ژوندانه د امنیت او نظم په پار د پاوړې عدلیي او قضایي سیستم په رامنځته کیدو کې ونډه اخستل.
8. د نوي مهارتونو او حقوقي فنونو معرفي او څېړول
9. د علمي او څېړنیزو چارو په برخه کې په ملي او نړیوالو معیارونو برابر علمي پروګرام رامنځته کول.
10. د کلتور، فرهنګ او ادبیاتو د ودې لپاره د اسلامي او حقوقي اصولو سره سم ، لیکنې او څېړنې تر سره کول
11. په پوهنځي او دیپارتمنتونو کې د ښه حکومتولي تامینول
12. د حقوقو او سیاسي موضوعاتو په هکله د عامه پوهاوی تر سره کول.

13. په خپله مسلکي برخه کې نړیوال کیدنې او د مارکیټ اقتصاد د اصل پیاوړي کول.
14. د لوړو زده کړو وزارت، ولایت، پراختیایي ښکیلو خواوو او نورو تمویلوونکو ادارو او اشخاصو په وړاندې د دپوهنځی ځخه اغیزمنه استازولي او له دوی سره د ښو اړیکو ټینګول
15. د لوړو زده کړو په برخه کې غوره خدمتونو وړاندې کولو په پار هر اړخیز امکانات ترلاسه کول
16. د وخت او اړتیاووله غوښتنو سره سم په بیلابیلو برخو کې د مسلکي اشخاصو روزل.
17. د بیلابیلو علمي او تخصصي پروګرامونو د پلي کیدو لپاره دمعیاري تخنیکی او مسلکی جوړښتونه ،مادي او کاري وسایلو برابرول.

## د کلیدی کړنو د شاخصونو په نظر کې نیولو سره د پوهنځی ستراتیژک اهداف او موخې ټاکل:

د حقوقو او سیاسی علومو د پوهنځي ستراتیژیک پلان جوړونې ځخه موخه د لوړو زده کړو د بهیر چټکتیا او ښه والی دی چې په ټولنه کې د شته ناورینونو او ستونزو پای ته رسیدو په برخه کې خپله ونډه واخلي. پوهنځی د ټاکلي ماموریت او معیارونو په پام کې نیولو سره داسې وړ، مسلکي او معیاري کادرونه روزي چې د ټولنې په پرمختګ او د ستونزو په حل کې د خدمت وړاندې کولو جوګه شي. بست پوهنتون د حقوقو اوسیاسي علومو پوهنځي پورته ارزښتونو او لیدلوري ته د رسیدو په موخه لاندې کړنې ترسره کوي:

1. په دوامداره توګه د وخت د شرایطو او بازار د غوښتنو په پام کې نیولو سره معیاري زده کړې وړاندې کول
2. د نورو ځانګو زیاتوالی او معیاري کول
3. د ماستری پروګرامونو پیل کولو او زیاتولو په موخه د علمي کادر غړیو لپاره د نورو لوړو زده کړو زمینه برابرول
4. د ښو علمي او څېړنیزو پرمختګونو په موخه څېړنیز کمېټې او مرکز درلودل
5. د بست پوهنتون په چوکات کې د یو فعال پوهنځي په توګه په راتلونکو پنځه کلونو کې له ملي او بین المللي اعتبار ورکوونکو ادارو ځخه اعتبار ترلاسه کول
6. د حقوقو اوسیاسي علومو په برخه کې هڅه کول تر څو بست پوهنتون په علمي او اکاډمیکو چارو کې د خپلواکۍ په لرلو سره د سیمې له پوهنتونونو سره سالمې سیالۍ ته چمتو شي.

## زېربناوې:

ټول علمی بنسټونه (پوهنتونونه او تحصیلي موسسې) تل هڅه کوي چې د علمي او اکاډمیکو پرمختګونو ترلاسه کولو په موخه مادي امکانات او د اړتیا وړ پراخه زیربناوې او تاسیسات ولري. همدارنګه اړینه برېښې چې د راتلونکي لپاره بنسټیزې او زیربینایي پروژې پلي کړي چې په پراخه کچه د لوړو زده کړو بیلابیلو پروګرامونو د تطبیق وړتیا ولري.دا چې پوهنځی په مستقیم ډول نشي کولی چې خپل زیربناوی ستونزي حل کړي نو په دغه برخه کې د پوهنتون د موسس او اداري په همکاري د هغوي د زېربناوو د پراختیا په موخه د ماسټر پلان له مخې په راتلونکو پنځو کلونو کې لاندې چارې ترسره کوي:

1. د حقوقو او سیاسي علومو داړونده عملي کارونو د ترسره کولو په موخه د حقوقي کلینک چاري تنظیمول.
2. په شته تعمیر کې د کتابتون د لوازمو او وسایلو ترتیب او فعالول.
3. د کنفرانس خونو فعالول او په اړونده وسایلو سمبالول

4. د پوهنځی د زیربناوو ساتنه او څارنه
5. د تعمیر د اړونده خونو د امنیت ساتلو په موخه د خونواو دهلېزونو کي امنیتي کامرې لګلول
6. مجهز تالار جوړول د عملي کارونو (تمثلي محکمه، ډیپلوماتیکه مذاکره ) اوځیني مهم سمینارونه لپاره

## خطرات:

د ا چي نن سبا د نورو ادارو په څیر علمي پروګرامونه په ټولنه کې د ځینو خطراتو او ګواښوونو سره مخامخ کیږي. که چیري په پلان کې ورته پوره پاملرنه ونشي، شوني ده، چي د بیلابیلو تهدیدونو او ګواښونو له کبله د پلان موثر تطبیق له خطر سره مخامخ شي. پوهنځی په راتلونکو پنځو کلونو کې خپل ستراتیژیک پلان د تطبیق پر وړاندې د لاندې خطراتو وړاندوینه کوي:

1) د هیواد په کچه د کاري فرصوتونو نشتون
2) د عوایدو کموالی
3) په علمي ډګر کي د ناسالم رقابت شتون
4) د خدماتي پرسونل نشتون
5) د حکومت د دستګاه له لوري خصوصي سکتورونو سره د سالمي همکارۍ نشتون
6) د کانکور له لارې د زیات شمېر او کم ظرفیت لرونکو محصلینو معرفي کیدل
7) د علمي کادرونو  نشتون
8) د محصیلیونو نشت والی
9) د ټکنالوژی ناسم استعمال
10) د ټکنالوژۍ سره نه بلدتیا

## د چاپېریال اغیزې:

دا چي نن سبا د کاري فرصوتونو د نشتون له وجي د نورو  ادارو په څېر علمي پروګرمونه په ټولنه کې د یو لړ داخلي او بهرنیو چاپېریالي اغېزو تر تاثیر لاندې راځي.

نو که چیرې د چاپیریال مثبتې اغیزې له وړاندې وپیژندل شي، د پوهنتون په علمي او فزیکي پرمختګ کې ورځخه مثبه ګټه پورته کیدای شي.
او که چیرې د چاپیریال منفي اړخ په پام کې ونه نیول شي، شوني ده، د بېلابېلو تهدیدونو او ګواښونو له کبله د پلان موثر تطبیق له خطر سره مخامخ کړي. پو هنځي د پو هنتون په همکارۍ په ر اتلو نکو پنځو کلونو کې د خپل ستر اتیژیک پلان د تطبیق پر  وړ اندې د لاندې مثبتو ټکو او خطر اتو  وړ اندوینه کو ي

**مثبت ټکي:**

۱: پوهنځی د یو ښه موقیعت چې د ښار مرکز دی شتون لري

۲: پوهنځی په سیمه کې د موثرې زده کړې لپاره د مناسب موقعیت او پراخې ساحې لرونکې ده.

۳: پوهنځی د هیوادوالو د سالمې روزنې لپاره په کافي اندازه احاطه لري.

۴: پوهنځی د ښه مالي او اداري سیستم درلودونکې ده

۵: پوهنځی کې د مسلکي، تخصصي او باتجربه استادانو شتون

۶: د موسس لخوا مالي ملاتړ

۷: د پوهنځۍ په کچه د قوی رهبری موجودیت

۸: د پوهنځۍ په سطحه د فساد نشتون

**منفي ټکي:**

۱: د کافي شمېر استادانو نشتون

۲: د کافي شمېر دکتورا لرونکو استادانو نشتوالی

۳: د علمي لوړ رتبه استادانو نشتوالی

۴: د څېړنیزو علمي مقالو کمبود

۵: د ښځینه محصلینو کموالی

۶: پر پوهنځی د محیط منفي تاثرات

۷ : د کامل کدرې سیستم نشتون

## د لنډ مهال او اهداف ټاکنه او اکشن پلان :

په لاندې ډول د ستراتژيکو اهدافو د لاسته راوړلو په موخه لنډ مهال اهداف او د هغوی عملياتي پلان ترتيب سوی دي

| شماره | فعالیت | موخه | مسؤل | د اجرا ځای | سرچینې | د کار د اجرا وخت | | | | | | | | | | | | ټول وخت | د کار شروع | د کار ختم | اغېزې | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | | وری | غویی | غبرګولی | چنګاښ | زمری | وږی | تله | لړم | لیندۍ | مرغومی | سلواغه | کب | | | | د برنامې اغېز | کتنې |
| ۱ | د ظرفیتونو لوړول | په حقوقو او سیاسی علومو پوهنځۍ کې د ماستر او دوکتور استادانو زیاتوالی | د پوهنځۍ ریاست او علمي معاونیت | د حقوقو پوهنځۍ | د اړتیا مطابق | ■ | ■ | ■ | ■ | ■ | ■ | ■ | ■ | ■ | ■ | ■ | ■ | دولس میاشتې | د حمل ۱۴۰۱ | حوت ۱۴۰۱ | په پوهنځۍ کې د ماستر او دوکتور استادانو زیاتوالی | |
| ۲ | د کیفیت تضمین د خدماتو پیاوړي کول او اکاډمیک اعتبار اخیستل | د نړیوال اعتبار اخیستلو په موخه د ټولو کړنو او فعالیتونو پر وخت او منظمه توګه تر سره کول او د اعتبارده‌ي د هر پړاو په منظمه توګه تی کول. | د پوهنځۍ ریاست/ د تضمین کیفیت اصلي او فرعي کمیټه | د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځۍ | د اړتیا مطابق | ■ | ■ | ■ | ■ | ■ | ■ | ■ | ■ | ■ | ■ | ■ | ■ | دولس میاشتې | حمل ۱۴۰۱ | حوت ۱۴۰۱ | پوهنتون اعتبار اخیستل دي | |
| ۳ | د تحصیلي نصاب اصلاح او څارنه | د محصلانو د ښې روزنې په موخه د تحصیلي نصاب ټول مواد په وخت کتل، نوي کول او تر محصلانو رسول. | د پوهنځۍ ریاست/ د تحصیلي نصاب اصلي او فرعي کمیټه | د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځۍ | د اړتیا مطابق | ■ | | | | | ■ | | | | | ■ | | د هر سمستر پیل او پای | حمل ۱۴۰۱ | سلواغه ۱۴۰۱ | د ښه نصاب د تطبیق په موخه | |
| ۴ | د علمي څېړنو پراخول | د ټولنې د شته ستونزو د حواري اوهم د پوهنتون او پوهنځۍ د اکاډمیک فعالیت د تر سره کولو په موخه وخت په وخت د علمي څېړنو تر سره کول. | د پوهنځۍ ریاست/د علمي څېړنو اصلي او فرعي کمیټه | د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځۍ | | ■ | ■ | ■ | ■ | ■ | ■ | ■ | ■ | ■ | ■ | ■ | ■ | پنځه کاله | ۱۴۰۱ | ۱۴۰۵ | \به څېړنه ساحه کې د پام ور لاسته راوړنې | |

| | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۵ | د استادانو د ماسټری پروګروام | د استادانو د ظرفیت لوړول | علمي معاونیت | د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځی | | | | | | | | | | | | | | دری کاله | ۱۴۰۳ | ۱۴۰۵ | د تدریس او تدریسی سیستم د کیفیت لوړوا | |
| ۶ | د مسلکي دایمي استادانو مقررول او کادري سیستم فعالول | د استادانو د اعتبار او د هغوي د ظرفیت لوړوني لپاره تر څو په همیشني ډول ماستر او دوکتور مسلکي کادرونه د محصلانو د روزني لپاره موجود وي. | د پوهنځی ریاست/علمي معاونیت/ د استادانو چارو آمریت | د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځی | | | | | | | | | | | | | | شپږ میاشتې | جوزا ۱۴۰۲ | لړم ۱۴۰۲ | د معیارونو د تطبیق سره مرسته او دکیفیت لوړوال | |
| ۷ | د عوایدو را ټولول | د خپل تصیلي بنسټ د بقا او علمي او کادري غړو د ساتني لپاره د تحصیلي او څېړنیزو خدماتو له لاري د عوایدو را ټولول. | د پوهنځی ریاست | د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځی | | | | | | | | | | | | | | پنځه کاله | حمل ۱۴۰۱ | حوت ۱۴۰۵ | استادان تشویقول او د پرنامې دوام | |
| ۸ | د ټکنالوژۍ څخه استفاده | د وخت او زمان د غوښتني مطابق په تدریس او هم د اداري چارو د پر مخ بیول ل او هم په انلاین ډول د تدریس وراندي کول. | د پوهنځی ریاست/ د برېښنايي زده کړو کمېټه | د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځی | | | | | | | | | | | | | | پنځه کاله | حمل ۱۴۰۱ | حوت ۱۴۰۵ | د کارونو د چټکيا او منظم والي راوستل | |
| ۹ | نړیوال فعالیتونه تر سره کول | د اکاډمیک اعتبار اخیستل او د نړیوالو پوهنتونونو په لیست کي د خپل پوهنتون او پوهنځی شاملول. | د پوهنځی او پوهنتون ریاست | د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځی | | | | | | | | | | | | | | دری کاله | مرغومی ۱۴۰۲ | حوت ۱۴۰۴ | اکادمیک اعتبار سره مرسته کول | |
| ۱۰ | عملی کارونو لپاره زمینو پراختیا | د محصلینو عملی سویه لوړول | پوهنځي | حقوقو پوهنځي | | | | | | | | | | | | | | پنځه کاله | ۱۴۰۱ | ۱۴۰۵ | د کاري پراختیا د فارغانو لپاره | |
| ۱۱ | د ټرینګونو او ورکشافونو دایرول | د محصلینو ،استادانو او کارمندانو په کاری ظرفیت کي لوړوالی راوستل | مسلکی پراختیا مرکز او پوهنځي | پوهنځي | | | | | | | | | | | | | | شپږ میاشتې | میزان ۱۴۰۱ | حوت ۱۴۰۱ | د فعالیتونو موثر ترسره کول او مثمرت رامنځته کول | |

| | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱۲ | په پوهنځي کي نوي څانګي رامنځته کول | د مسلکي زده کړو د ساحي پراخوالی | د پوهنتون رياست او پوهنځی | پوهنځی اړونده څانګه | | | | | | | | | | | | | | دولس مياشتې دوه کاله | حمل۱۴۰۴ | ۱۴۰۵ حوت | د محصلينو د کچی زیاتوالی او د علمی کمپلکس پراختيا | |
| ۱۳ | په پوهنځی کي معیاری کتابتون پراخوال | د مطالعی د ساحی پراخوالی | کتابتون او پوهنځی | پوهنځی | | | | | | | | | | | | | | څلور مياشتې (دری کاله) | ۱۴۰۳ | ۱۴۰۵ | له مطالعی سره د محصلينو د ړیکو زیاتوالی او نوي مالومالتو | |
| ۱۴ | د تشکيلاتو پراختيا | د منظمو او معیاری تشکيلاتو درلودل | بشری سرچيني /استادانو چارو امريت | حقوق پوهنځی | | | | | | | | | | | | | | | | | په پوهنځي کي د کار د ښبود لپاره اداري تشکيل پراخوالی دی | |
| ۱۵ | په اداره او ډيپلوماسی څانګي د ماسټری پروګرام ايجاد | په ټولنه کي د يادي څانګي رول زیاتیدل او د ماسټري ترکيجی محصل روزل | بست پوهنتون رياست/پوهنځي | حقوق پوهنځی | | | | | | | | | | | | | | دوی مياشتې (پنځم کال) | ۱۴۰۵ | ۱۴۰۵ | په نړیوالی او ملی کچه یادي څانګی علاق زیاتیدل | |

## پایله:

د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځی یاد تکمیل او ترتیب سوی ستراتیژیک پلان د پنځه (۱۴۰۱-۱۴۰۵)کاله پوری ترتیب شوی دی پوهنځی هڅه کوي چې ځای پر ځای شوی مواد په خپل ټاکلې نېټه عملي کړي.

پوهنځی به کوښښ وکړي چې د پوهنتون، د موجوده ستراتيژيک پلان ته په کتولو سره سم د پوهنځي اړوند د فزيکي رغونې او معنوي پياوړتيا لپاره امکانات چمتو کړي.

د دې چارې د ترسره کيدو لپاره د پوهنځی د ځوانانو استادانو کوښښونه پوهنځی ته د خوښی زېری او هيله بخښوونکي دي.

ترڅو د حقوقو او سياسي علومو پوهنځی د هيواد ، سيمي او منطقې په سطحه مطرح او پر معيار ولاړه وي او د هيواد زورېدلي ولس هيلي او غوښتني چې د ټکنالوژۍ د موثر استعمال او مروج کولو په برخه کې لري په پوره صداقت او رښتنولۍ سره چمتو، اماده او د وطن د علم پروره بچانو دا علمي تنده خړوبه کړي.

د کمېټې د مسول نوم. نورالله عزيزي لاسليک .......................

د پوهنځی د ستراتيژيک پلان د کمېټې له لوري د تائيد نېټه او پروتوکول نمبر:

نېټه: ۱۵/ ۱۲ / ۱۴۰۰

پروتوکول نمبر: ( ۱۱ )

د پوهنځی د علمي شورا له لوري د تائيد نېټه او پروتوکول نمبر:

نېټه: / /

پروتوکول نمبر: ( ) د پوهنځی د رئيس لاسليک............................ د پوهنځی مُهر ...........................

د پوهنتون د علمي شورا له لوري د تائيد نېټه او پروتوکول نمبر:

نېټه: / /

پروتوکول نمبر: ( )

د پوهنتون د رئيس نوم .................................................. لاسليک ..................................................... مُهر